# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## يهودي دولت د عربي رژيمونو سيوری دی. کله چې شی له منځه يوړل شي، سيوری يې هم له منځه ځي

(ژباړه)

حزب التحریر- ولايه تونس هره جمعه د غزې د ملاتړ په موخه لاريون کوي. دغه جمعه، چې د ۲۰۲۴م کال، د جنورۍ ۱۲مه کېږي، لاريون په پلازمينه کې له الفتح جومات څخه پيل شو او د ښاروالۍ تر تياتر پورې يې دوام وکړ. د دغه لاريون شعار « **يهودي دولت د عربي رژيمونو سيوری دی. کله چې شی له منځه يوړل شي، سيوری يې هم له منځه ځي**» و؛ خو داسې ښکاري چې دا سرليک د تونسي چارواکو د خوښې وړ نه و، ځکه پر لاريون يې بريد وکړ او هغه بنرونه يې لرې کړل چې دا سرليک پرې ليکل شوی و. ولې!؟

۱. دغه عرب رژيمونه هماغه رژيمونه دي، چې ولاړ وو او کتل يې او اوس هم سيل کوي، چې يهود د فلسطين خلک وژني. دوی ان د فلسطينيانو په وژلو کې د يهودو ملاتړ کوي. که نه نو ولې د ۱۰۰ ورځو په تېرېدو لا هم هېڅ نه کوي!؟ ځينې يې ان د امريکا، برتانيې يا يهودي دولت اجازې ته په تمه دي، چې لارې پرانېزي او دوی خپلې کوچنۍ مرستې غزې ته ورورسوي!

۲. د تونسي چارواکو په ګډون دغه عرب رژيمونه هغه کوچني دولتونه دي، چې په ۱۹۲۴م کال کې د مسلمانانو د دولت (خلافت) تر ړنګېدو وروسته د فرانسې او انګليس له لوري د سايکس- پيکو ناوړه تړون په پايله کې رامنځته شول.

۳. دغه عرب رژيمونه د يهودو غبرګوني وروڼه دي. دواړه د برتانيې او فرانسې استعماري کړيو له لوري رامنځته شوي دي.

۴. دغه عرب رژيمونه او يهود دواړه د مسلمانانو د يووالي له منځه وړلو او د دې لپاره رامنځ ته شوي چې مسلمانان وځوروي او د غربي استعمار غلامان او تابع يې کړي.

۵. دا هغه عرب رژيمونه دي چې تل يې د يهودي دولت ساتنه کړې. د ۱۹۴۸، ۱۹۵۶، ۱۹۶۷ او ۱۹۷۳ کلونو جګړې يوازې د يهودي دولت د لا پياوړتيا او د مسلمانانو د ويشلو لپاره وې.

دا د هغو حقیقتونو یوه خبره ده چې د تونس په ګډون ټول د عربي رژیمونو په اړه پرې پوهیږي؛ همدا چې امریکا او انګلیس د اسلامي خاورو پر اسمانونو ګرځي، هر څوک چې هر چېرته وغواړي بمباروي یې، هر ځای خلک له منځه وړي او په فلسطین کې مسلمانان وژني، خو دوی ولاړ دي او سیل یې کوي.

ایا حقیقت مو دومره ډېر ځوروي!؟ ستاسو حقیقت ډېر تریخ دی!؟ ایا اوس د دې وخت نه دی چې راویښ او پوه شئ چې د تونس رژیم په ګډون دا رژیمونه د یهودي دولت له غبرګونو پرته بل څه نه دي؟ د دوی ساتنې ته لا دوام ورکوئ!؟

ایا اوس د دې وخت نه دی چې د حق، خپل امت، خپل دین او او خپلې خاورې تر څنګ ودرېږئ!؟ ایا اوس د پولو او خنډونو د له منځه وړلو وخت نه دی!؟

**اې پوځونو:** موږ تاسو ته نه وایو چې د غزې خلک وژغورئ، ځکه چې دوی له یو بې مثاله عزت څخه برخمن دي. موږ تاسو ته وایو چې خپل ناموس وژغورئ، خپل نارینه‌توب وژغورئ چې د استعماري اجنټانو لخوا تر پښو لاندې شوی. ایا ستاسو په منځ کې کوم د عقل او فکر خاوند نشته!؟

**د حزب التحریر- ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۹/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**